د افغانستان اسلامي امارت

د خوړو او درملو ملي اداره/اداره ملی غذا و ادویه

Afghanistan Food And Drug Authority(AFDA)

# خواړه او درمل مهالنی




لومړی کال- لومړی گڼه-۱۴۴۴هـ ق (رمضان) /۱۴۰۲هـ ش(حمل)

ریاست دفتر
آمریت اطلاعات او ارتباطات




# خواړه او درمل مهالنی

۱ گڼه

د خوړو او درملو ملي اداره(AFDA)

| | |
|---|---|
| د امتیاز خاوند | : د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداره |
| مسوول مدیر | : داکټر جاوید هڅیر |
| کتنپلاوی | : مولوي عبدالبصیر قانع ، فدا محمد منصور ، نور احمد حنیفي |
| خبریال | : حکمت الله هوتک |
| ډیزاینر | : داکټر جاوید هڅیر |
| انځورگر | : عالم کبیري |
| د اړیکو شمیرې | : ۰۷۰۰۱۷۰۰۹۱---۰۷۸۸۰۸۰۱۰۱ |
| برېښنالیک | : info@afda.gov.af |
| ویب پاڼه | : www.afda.gov.af |
| پته | : کابل ښار ، دویمه ناحیه ، ده افغانان |

# لړلیک


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د ادارې د سرپرست پیغام | ۱ |
| ۲ | د ادارې پېژندنه | ۴ |
| ۳ | د ادارې لیدلوری، دندې او ارزښتونه | ۵ |
| ۴ | د ادارې دندې | ٦ |
| ۵ | د ادارې لاسته راوړنو ته کتنه | ۸ |
| ۶ | د روغتیایي محصولاتو او درملو د وارداتو تنظیم | ۹ |
| ۷ | درملیزو بنسټونو او فعالیتونه ته جواز ورکول | ۱۰ |
| ۸ | له درملیزو بنسټونو څخه څارنه | ۱۱ |
| ۹ | د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت کنټرول | ۱۲ |
| ۱۰ | د کیفیت د کنټرول لابراتوارونو ریاست | ۱۴ |
| ۱۱ | د خوړو او درملو پر کیفیت او مصؤونیت باندې د اسلام ټینګار | ۱۷ |
| ۱۲ | دخوړو خوندیتوب | ۱۹ |
| ۱۳ | د خوړو په خوندیتوب کې مهم ټکي | ۲۰ |
| ۱۴ | سازمان های شناخته شده و تصدیقنامه های مصونیت غذایی | ۲۲ |
| ۱۵ | دوا و استفاده معقول آن | ۲۵ |
| ۱۶ | دخوړو اهمیت او مصونیت د اسلام له نظره | ۳۰ |
| ۱۷ | ارزیابی مصؤونیت شامپوی گیاهی بیخ | ۳۲ |
| ۱۸ | تشخیص منشا جلاتین دواهای منابع حیوانی | ۳۵ |
| ۱۹ | بدل(تقلبي) چای وپیژنئ | ۳۸ |
| ۲۰ | دانتي بیوتیک ګټې او زیانونه | ۳۹ |
| ۲۱ | هیواد ته د بیلتی ( قاچاق ) په ډول د درملو د وادراتو زیانونه | ۴۱ |
| ۲۲ | فارمکوویجیلانس | ۴۳ |




# د اداري د سرپرست پیغام

الحمد لله الذي خلقنا موحدين، والحمد لله الذي جعلنا مسلمين، له الحمد هدانا للإسلام وما كنا لنهتدي لولا أن هدانا الله، الحمد لله أكمل لنا الدين وأتم علينا النعمة ورضي لنا الإسلام دينا، فله الحمد حمداً يليق بجلال ملكه وعظيم سلطانه. ثم الحمد لله حمداً كثيراً الذي أنعم علينا بهذه القيادة الرشيدة، التي جعلت هدفها إقامة شرع الله وعاهدت الله ثم عاهدت الشعب بأن تجعل القرآن دستورها فما أعظمها من نعمة حين يكون الإسلام هو أساس الحكم والتحاكم،
والصلوة و السلام على خير خلقه محمد و على اله و صحبه اجمعين .
وبعد :
د الله شکر ادا کوم چې د شرعي ،ازاد او خپلواک نظام تر سیوري لاندې د هیواد د سمسورتیا ، ابادی او د خلکو د سالمي روغتیا د ساتنې په موخه په خدمت بوخت یو ، باالخصوص هغه برخه کې چې له اکسیجن څخه وروسته د انسان د ژوند اړین ضروریات بلل کیږي چې عبارت له خوراکي توکو او درملو څخه دی نو په همدې اساس ویلی شو، چې د خوړو او درملو ملي اداره یوه له مهمو حیاتي او اقتصادي ادارو څخه بلل کیږي.
دغه اداره دنده لري تر څو دگړانو هیوادوالو د سالمې روغتیا او مالي لګښتونو د کمښت په موخه د خوړو درملو داخلي تولیدات ، واردات ، د مصؤنیت او کیفت کنترول ، په بازارونو کې نظارت او څارنه او د درملو او طبي وسایلو د نرخونو د کنټرول په موخه هر اړخیز خدمات تر سره کړي او همدارنگه په دغه برخه کې د هیواد د ځان بسایني لپاره هم اړین گامونه پورته کړي.
نو ویلی شو چې نوموړې اداره له خورا اهمیت څخه برخمنه ده، که چېرته غذایې توکي باکیفیته او مصؤن وي نو انسانان به تر ډیره حده نه ناروغه کېږي او اړتیا به نه وي چې په روغتونونو کې خپلې پیسې مصرف کړي، نو په نتیجه کې به د کورنیو اقتصاد هم نه ضعیفه کیږي، د عامې روغتیا په بودیجه کې به هم سپما کیږي، بالاخره هغه ملیاردونه افغانۍ چې هر کال د خوړو د عدم مصؤنیت له امله په رامنځته شویو ناروغیو لګول کیږي سپما شي .
د یادونې وړ ده چې په هیواد کې تیر شل کلن اشغال د نورو ناخوالو تر څنگ د خوراکي توکو د نه خوندیتوب په برخه کې هم ډیرې ناخوالې زیږولې، امریکا او د دوی متحدینو زیات شمیر کیمیاوي وسلې او بمونه چې په لوړه کچه د رادیو اکتیف او زهري ذراتو لرونکي و استعمال او د هیواد هره برخه او چاپیریال یې وربادنې ککړ او الوده کړ، چې دغه کار له یوې خوا د خلکو روغتیا ته لوړ زیان اړولی او له بله پلوه یې د هیواد کرنیز سیستم له ستر زیان سره مخ کړی دی، چې په نتیجه کې یې د خوراکي توکو د خوندیتوب په برخه کې زیات خنډونه رامنځته کړي دي، چې افغانان به لسگونه کاله نورهم له دغه خطرناک محیط څخه کړېږي، نو لازمه ده چې د بشر دحقوقو داعیان او نړیوالې محکمې د افغانانو له حقوقو څخه په دغې برخه کې دفاع وکړي او اواز پورته کړي، تر څو هغه نړیوال چې په دغه برخه کې یې ستر ناورین رامنځته کړی اوس یې په ترمیم او جوړښت کې لاس په کار شي .

له خوراکي توکو وروسته درمل او طبي محصولات د ژوند له مهو اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، چې باید د نړیوالو ستندردونو سره سم تولید ، وارد ، ذخیره او و ویشل شي .
د درملو او طبي محصولاتو کیفیت او خوندیتوب (مصؤنیت) خورا لوی اهمیت لري، که نوموړي توکي باکیفیته او معیاري وي نو د ناروغی تشخیص به آسانه او ارزانه تر سره کیږي او همدارنګه په کم وخت کې په اسانه او ارزانه ډول به د ناروغیو درملنه کیږي او ضرورت به نه وي چې بار بار ډاکټرانو ته مراجعه وشي او د سلګونو پر ځای زرګونه روپۍ مصرف شي .
له بده مرغه زمونږ په هیواد کې د کورنیو تر ټولو زیاته برخه پانګه د ناروغانو په درملنه لګول کیږي، چې د روغتیاېي ستونزو تر څنګ یې خورا زیاتي اقتصادي ستونزې زیږولي .
د تیرو څو کلونو راپوروته ښیې چې هیواد ته په منځني ډول د کال د زرو میلونو ډالرو درمل را واردیږي، حال داچې د هیواد نفوس ته په کتو دومره زیاتو درملو ته اړتیا نشته نو دا په ډاګه کوي چې دغه درمل کم کیفیته او غیر مصؤن وي ، څکه په لوړه کچه استفاده شوي تر څو ناروغی وربانديې درملنه شي نو که دغې برخې ته په ملي کچه ځانګړې پاملرنه ونه شي د هیوادوالو اقتصاد به هیڅکله پرمختګ ونه کړي او خپل هست و نیست به ټول د ناروغانو په درملنه لګوي او یو شمیر به حتی له هیواده بهر خپل ناروغان د درملنې په موخه وباسي، چې دغه وضعیت به هیواد نور هم له اقتصادي بحران سره مخ کړي.
نو ویلی شو چې د خوړو او درملو ملي اداره له خورا مهمو حیاتي او اقتصادي ادارو څخه بلل کیږي.
داچې دغه اداره د تیر نظام په وخت کې صرف تر کابل منحصره وه او په ټولو برخو کې یې د پام وړ مشکلات او نیمګرتیاوې لرلې خو اوس الحمدالله د ټولو ۳۴ ولایاتو لپاره منظور شوی تشکیل لرو او هغه حیاتي برخه چې هغه د غذایي توکو له خوندیتوب څخه ډاډ حاصلول دي، د یوه عمومي ریاست تر چتر لاندې اوس فعالیت لري.
د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د یادې اداري نمایندګان شتون لري تر څو د وارداتو په برخه کې کیفیت او مصؤنیت ته پاملرنه وشي ،د هیواد په څلورو سترو زونونو کې د غذایي توکو ، درملو، طبي وسایلو، وینځلو (شوینده ) موادو او سینګاري( ارایشي ) وسایلو د مصؤنیت او کیفیت د کنترول ستر لابراتوارونه جوړیږي چې طرحه یې تکمیل او ډیر ژر به په کار شروع وکړي .
د اداري ټول سیستم برقي (ډیجیټل ) کول چې د دغې برخې طرحه هم نهاېي شوې او د ۱۴۰۲ هجري شمسي کال تر دریمي ربعې پورې به په مرکز او ولایاتو کې عملي شي او پر اساس به يې وکولی شو چې د ورځو کارونه په نیم ساعت کې تر سره کړو، له شفافیت څخه سل سلنه ډاډ حاصل کړو، د کیفت د لابنه کنترول په موخه به د ګرځنده ټلیفونونو لپاره سافټویرونه جوړ شي، چې عام خلک به په اسانه ډول د اصلي او جعلي درملو تفکیک وربانديې وکولی شي، که په لنډ ډول وواېو د خوړو او درملو دملي اداري په چوکات کې د تیر یوه کال په دوران کې لاندې مهم ګامونه اخستل شوي :
۱: د درملو او طبي محصولاتو لپاره د حنفي فقهي مطابق قانون جوړول .
۲: د غذایي خوندیتوب ( مصؤنیت ) څانګه فعالول .
۳: په مرکز او ولایاتو کې د تشکیل اضافه کول .
۴: د غیر مصؤن او کم کیفیته درملو او غذایي توکو د قاچاق مخنیوی .
۵:په مرکزي لابراتوار کې د پخوا په پرتله پنځه برابره د فعالیت زیاتوالی او صرف په ۱۴۰۱ کال درې څلویښت زره نمونې ټسټ کول

ډاکټر عبدالباري عمر
د خوړو او درملو ملي اداري سرپرست




لمړی برخه؛

# زمونږ په اړه

- د اداري پیژندنه
- د اداري لیدلوری، ماموریت او ارزښتونه
- د اداري دندې

# د اداري پېژندنه

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداره، د خلکو د روغتیا په برخه کې دهیواد له مهمو او کلیدي ادارو څخه ده، چې د خلکو د روغتیا ، د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت، اغیزمنتوب او خوندیتوب څخه د ډاډ حاصلولو په موخه په ۱۳۹۹ هـ کې کال کې رامنځته شوه

درملیزو بنسټونو ته د جواز ورکړه، د روغتیایي محصولاتو او داخلي کارخانو ارزونه او ثبتول، د خوړو او درملو د کیفیت کنټرول، بازار ته د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو د وړاندې کولو اجازه، د کلینیکي ازمېښتونو تنظیم او کنټرول، فارمکوویجلانس یا د روغتیایي محصولاتو او درملو پر خوندیتوب څارنه، د درملو د اشتهاراتو او خبرتیاوو تنظیم او کنترول ، د قانون او مقرراتو پلي کول او دخوړو خوندیتوب د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري له مهمو دندو څخه شمیرل کیږي

په نړۍ کې د خوړو او درملو د اداراو اصلي موخه، د خوړو، درملو ، د روغتیایي توکو، طبي وسایلو، واکسینونو، او روغتیایي محصولاتو د څارنې له لارې د عامې روغتیا ساتنه او ترویج دی، له دې سربېره د نوښتونو له لارې د کیفیت ، خوندیتوب او اغیزمنتوب په موخه د عامې روغتیا وده او د درملو مناسب بیې دندې پر غاړه لري ،

په همدې اساس په افغانستان کې هم د خوړو او درملو ملي اداره رامنځته شوې ده، چې د یوې موثرې او اغېزمنې اداري د رامنځته کېدو او په ټول هېواد کې د خوراکي توکو او درملو د تنظیمي چارو د ترسره کولو لپاره تشکیل او مناسب جوړښت، د فعالیتونو د لا پرمختګ لپار لازمې بودیجې او سیاسي ملاتړ ته اړتیا لري تر څو د خلکو دروغتیا خوندي او با کیفیته خوړو او درملو په کارولو سره ښه شي .

د نړۍ نور هیوادونه د خپل هیواد اړتیاو ته په کتو د خوړو او درملو د چارو د تنظیم اداري رامنځته کوي، چې دغه اداري د درملو د نویو مالیکولو د پراختیا، د جواز ورکړه، ثبت، تولید ، بازار ته د وړاندې کولو او لیبل لګولو په موخه د قانوني اجراتو ،مقرراتو او د لارښودونو د جوړولو مسؤلیت لري .

تنظیمي اداري د درملو د کیفیت، اغیزمنتوب، او خوندیتوب څخه د ډاډ حاصلولو په موخه د درملیزو مقرراتو د پلي کولو مسؤلیت لري او سربېره پر دې د هغو درملو د اطلاعاتو سمونه چې د عامو خلکو د لاس رسي وړ وي باید تایید کړي.

تنظیمي اداري د ټولني خلکو ته د با کیفیته، اغیزمنو او خوندي درملیزو محصولاتو د رسولو په موخه د مقرراتو په چوکاټ کې ستراتژیکې، تکتیکي او عملیاتي لارې په نظر کې نیسي.



# د اداري لیدلوری، دندې او ارزښتونه

## لیدلوری




ټولو خلکو ته باکیفیته ، مؤثره او خوندي درملو ،
خوړو او روغتیایي محصولاتو ته لاسرسی

## ماموریت




د ټولو خلکو د صحت د خوندیتوب لپاره د درملو ،
خوړو او روغتیایي محصولاتود تولید ، تورید ، لیږد،
ویش او ګټې اخیستنې تنظیم او کنترولول

## ارزښتونه




- عدالت او برابري.
- ریښتینولي او لیاقت.
- د کیفیت او روڼوالي خوندیتوب.
- خوندي خوړو او درملو ته د خلکو لاسرسی.
- د ټولنې ډیری وګړو لپاره د اخیستلو وړ خوړو او درملو برابرول.

# د اداري دندې

LICENSING

د درملیزو او خوراکي بنسټونو، فعالیتونو او کارکوونکو ته د جواز ورکول

REGISTRATION

د تولیدي کمپنیو او اړونده محصولاتو ثبت او ارزونه

MARKET AUTHORIZATION

بازار ته د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د وړاندې کولو اجازه

INSPECTION

خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو څخه څارنه

QUALITY CONTROL

خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت کنترولول

PHARMACOVIGILANCE AND SURVEILLANCE

خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو پر خوندیتوب څارنه

CONTROL AND PROMOTIONS OF ADVERTISEMENT

خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د اعلاناتو او خبرتیاو تنظیم او کنترولول

CONTROL OF CLINICAL TRIAL

د کلینیکي آزمایښتونو تنظیم او کنترولول

FOOD SAFETY

د خوړو خوندیتوب



دویمه برخه؛

# د خوړو او درملو ملي اداري کړنې او لاسته راوړنې:

- د اداري لاسته راوړنو ته کتنه
- د روغتیایي محصولاتو او درملو د وارداتو تنظیم
- درملیزو بنسټونو او فعالیتونه ته جواز ورکول
- له درملیزو بنسټونو څخه څارنه
- د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت کنټرول

# د خوړو او درملو ملي اداري لاسته راوړنو ته کتنه؛





که څه هم د خوړو او درملو ملي اداره د خوړو، درملو او روغتیايي محصولاتو د چارو د ښه ترسره کولو په موخه په ۱۳۹۹ هـ ل کال کې رامنځته شوه، خو تشکیل یې د ورسپارل شوي مسؤولیت په اندازه نه و. دغه اداره د مخکیني تشکیل په درلودولو سره یوازې د کابل مرکز پورې منحصره وه ، خوشبختانه ویلی شو چې په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې معقول تشکیل د اداري په اختیار کې ورکړل شو او د ۳۱۰ بستونو په زیاتیدو سره یې تشکیل ۵۸۸ بستونو ته لوړ کړ، په دغه کال کې اداري خپل فعالیتونه یو شمیر ولایاتو ته و غځول او د هیواد په څلورو ولایتونو ننګرهار، کندهار، هرات او بلخ کې حوزوي ریاستونه او د هیواد په ګمرکونو کې د درملو وارداتو د کنټرول په موخه څلور امریتونه د اسلامي امارت له لورې منظور شول.

همدا راز اداره په دې وتوانیده چې خپلواک بودیجوي کوډ ترلاسه کړي او دتشکیل سره سمه بودیجه واخلي اداري هڅه کړې ترڅو اغیزمنو، خوندي او باکیفیته خوړو او درملو ته د خلکو دلاس رسي د اسانیدو ترڅنګ د خوړو درملو قوانینو ته پراختیا ورکړي او په دې وتوانیدله، چې د درملو قانون د اداري د فعالیتونو او مسؤلیتونو سره برابر د علماو، متخصصینو او مسلکي کارکوونکو په ګډې کمیټې تسوید کړي.

همدارنګه د خوړو خوندیتوب قانون او اړوندو مقرراتو د تسوید کار داړوندو کمیټو سره پیل شوی دی .

اداري د روغتیا نړیوال سازمان د غوښتنو سره سم د پرمختګ او تنظیمي سیستمونو د پیاوړتیا او دریمې درجې کچې ته د رسیدو او د اداري د اړینو کارونو په موخه تخنیکي طرحې، لارښوودونه، طرزالعملونه او شرطنامې جوړې کړې دي تر څو اداره د پرمختګ خواته ته لاړه شي.

په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې د اداري ډیر تمرکز په رسمي وارداتو او کنټرول باندې و او د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د اداري د استازوپه ټاکلو سره د خوړو، درملو او وارد شویو روغتیايي محصولاتو د کنټرول لپاره اسانتیا او ملي سوداګر لپاره د اسانتیاو برابرول و .

همدا رنګه د اداري انلاین بڼې ته د اوښتو پروسه پیل شوې او ددې پروسې په تکمیلیدو او سیستم رامنځته کیدو سره به د اداري په چارو کې په بې ساري اسانتیا رامنځته او له بلې خوا به حساب ورکونه او روڼتیا پیاوړې کړي.

همدارنګه اداره په پام کې لري، چې په اکمالاتي کړیو د اغیزمنې څارنې او د غیر معیاري او د بدلو (تقلبي) درملو د وارداتو د مخنیوی په موخه Traceability ردیابي سیستم رامنځته کړي ترڅو هغه لارې او پولې وڅارې چې درمل پرې راځي.

# د روغتیايي محصولاتو او درملو د وارداتو تنظیم :

دا چې د خوړو او درملو ملي اداره، د درملو د ثبت، ارزونې او بازار ته د وړاندې کولو یو اغیزمن سیستم لري باید  ډاډ ترلاسه شي تر څو ټول هغه درمل چې په افغانستان کې تولیدیږي او یا هم واردیږي د یو مناسب او کافي سیستم له لارې مخکې له دې چې بازار ته وړاندې شي ارزیابي شي، تر څو یې د کیفیت، خوندیتوب او اغیزمنتوب څخه ډاډ ترلاسه شي.
د تولید او  وارداتو  اساسي موخه د درملو بازار ته اجازه، پلورل، او ویشل دي چې ټول رسمي پړاوونه یې باید ترسره کړي وي
په تېر یو کال کې د خوړو او درملو ملي داري هڅه کړې ترڅو د هیواد درملیز مارکیټونه تنظیم او هېواد ته د درملو  او رغتیايي محصولاتو واردات د وارداتي شرکتونو له لارې ترسره کړي ترڅو باکیفیته  درملو او روغتیايي محصولاتو ته د خلکو لاس رسی ډېر شي. نو په ۱۴۰۱ هـ ل کال کې ۱۳۵۱ قطعي پروفورمې چې 14664 قلمه یې درمل دي، د 769،744،126 ډالرو په ارزښت درمل او روغتیايي محصولات د خوړو او درملو ملي اداره (AFDA)کې ثبت شوي دي.
په دې خاطر چې د درملو له کیفیت څخه ډاډ ترلاسه شي، مخکې له دې چې د بهرنیو تولیدي کارخانو درمل د افغانستان بازار ته وړاندې شي  د ټولو کمپنیو ثبتیدل د اداري سره اړین دي.
د خوړو او درملو ملي اداري د کمپنیو د ثبت سیستم د خپلې ارزونې لاندې راوستی او په دغه سیستم کې د خنډونو او نیمګړتیاو د لیرې کولو لپاره اداري نویو طرزالعملونو ته پراختیا ورکړې ده او ددغه طرزالعملونو له لارې به ټولې خارجي کمپنۍ د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري سره ثبت شي .





# درملیزو بنسټونو او فعالیتونو ته جواز ورکول :

په درملیز سیستم کې د فعالیت د جواز صادرول د حیاتي اهمیت څخه برخورداره وي، او ترڅنګ یې د هغو درملو او روغتیایي محصولاتو له کیفیت، اغیزمنتوب او کیفیت د تضمین په موخه خارنه چې د هیواد په داخل کې کارول کیږي او یا هم بهر ته لیږدول کیږي.

د خوړو او درملو ملي اداره، درملیزو بنسټونو ته د فعالیت د اجازې ورکولو د همغږۍ مسؤلیت لري او باید د قانون،مقرراتو له احکامو او د لاس رسی وړ نشر شویو لارښوودونو، له لارې ډاډ ترلاسه کړي ، چې د درملیزو تاسیساتو جواز ورکول د تولید، ذخیره کولو، ساتلو، ترانسپورت، وېش، لیږدول او نور اړونده کړنو سره مطابقت لري.

ټول درملیز تاسیسات چې د اکمالاتو په لړۍ کې شامل دي خپلو فعالیتونه اړوند باید د خوړو او درملو ملي اداري لخوا جواز ولري.

هغه درملیز بنسټونه چې د خوړو او درملو ملي اداره ورته د فعالیت اجازه لیک یا جواز ورکوي د درملو تولیدي کارخانې، عمده درمل پلورنځي، وارداتي شرکتونه او درملتونونو پورې محدود دي.

د جواز د ورکړې پروسه د کیفیت د معیارونو د رعایتولو او پلې کولو پر اساس ده . همدارنګه اداره هغو کسانو ته هم چې په درملیزو تاسیساتو کې فعالیت کوي د فني مسؤل یا فارمسسټ کارت صادروي.

د خوړو او درملو ملي اداري په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې ۶ بابه تولیدي کارخانو، ۲۱۸ بابه وارداتي شرکتونو او استازولیو ، ۲۰۹ عمده درمل پلورنځیو ته د فعالیت جوازونه صادر کړي دي. همدارنګه په درملیزو تاسیساتو کې د چارو د ښه ترسره کیدو په موخه ۲۰۸۷کسانو ته د فني مسؤل کارتونه صادر شوي دي



**۲۰۸۷** فني مسؤل کارتونه

**۲۰۹** عمده پلورنځي

**۲۱۸** بابه وارداتي شرکتونه

**۶** بابه تولیدي کارخاني

# له درملیزو تأسیساتو څخه څارنه :

د غیر معیاري او بدلو درملو استعمال ښايي د درملنې د ناکامیدو ، ناروغۍ د اوږدېدو، د درملو پر وړاندې مقاومت او حتی د مړینې لامل شي همدارنگه په روغتیایي سیستم، متخصصینو، د درملو تولیدونکو او ویشونکو باندې د خلکو باور له منځه یوسي.
هغه پیسې چې په غیر موثر او کم کیفیته درملو باندې مصرفیږي هدر کیږي او بې ځایه لمنځه ځي، د خوړو او درملو ملي اداره د درملو تولید ، وېش، واردول او استفاده چې په اغیزمن ډول تنظیم وي باید ډاډ ترلاسه کړي تر څو د خلکو روغتیا وساتل شي .
په همدې خاطر د خوړو او درملو ملي اداره له ټولو عامه او خصوصي درملیزو تاسیساتو، مارکیټونوڅخه څارنه ، د درملو نابلل شویو او غیر مترقبه پیښو د راپور ثبت او د درملو او روغتیایي محصولاتو د نرخونو پر کنټرول تمرکز کوي .
په تیر ۱۴۰۱ هـ ش کال کې اداري په جدي ډول د درملو رسمي وارداتو د زیاتوالي او درملو د مارکیټونو د قانوني کولو لپاره مبارزه کړې ده، په منظم ډول یې په لږو امکاناتو له ۳۰۰۰ درملیزو تاسیساتو څخه چې په هغې کې د درملو تولیدي کارخانې، وارداتي شرکتونه، عمده درمل پلورنځي او درملتونونه شامل دي څارنه کړې ده
له دغو درملیزو تاسیساتو څخه د څارنې پر مهال تاریخ تیري، غیرمعیاري او غیر قانوني روغتیایي محصولات او درمل راټول شوي او د اړوندو ادارو د استازو په شتون کې د اداري له لوري له منځه وړل شوي دي. همدار راز د شکمنو درملو څخه نمونه اخیستنه شوې ده او له منفي نتیجې ورکولو وروسته له منځه وړل شوي دي چې په ټولیز ډول تیر کال ۸۵۰ ټنه تاریخ تېرې او غیر معیاري درمل راټول او لمنځه وړل شوي دي، تر څو یې د خلکو له لورې د مصرف مخنیوی وشي. همدارنگه د یادې څارنې پر مهال له سرغړونکو سره قانوني چلند شوی او هر درملیز تاسیس چې سرغړونه یې کړې وي په موقت ډول یې تاسیس مهرلاک یا تړل شوي دي.
همدا رنگه د اداري څارنې ټیمونو په منظم ډول د دولتي او خصوصي روغتونو له درملتونو څخه څارنه کړې او یادو درملتونونو له لورې درملیزو معیاراتو د تطبیق ترڅنگ یې خلکو د باکیفیته د درملو له کیفیت او اغیزمنتوب څخه ډاډ ترلاسه کړې ، او د درملو نابلل شویو پیښو ۱۳۱ راپورونه یې له یادو بنسټونو څخه راټول او تحلیل کړي او د دغو راپورونو د تحلیل د پایلو له مخې یې لازمې کړنې ترسره کړې دي.
د خوړو او درملو ملي اداري له درملیزو تاسیساتو څخه د یادې څارنې ترڅنگ له درملیزو اشتهاراتو او تبلیغاتو څخه هم څارنه کړې، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې په هیواد کې خپاره شوي اعلانونه د شرعي، کلتوري، اخلاقي او مسلکي معیارونو سره سم دي که نه، د خوړو او درملو ملي اداري د اشتهاراتو امریت په تیر ۱۴۰۱ هـ ل کال کې د ۵۸ غیرمجاز اشتهاراتو مخه نیولې ده.













<table>
<tr><th>له درملیزو تأسیسات څارنه</th><th>د سرغړونو سره مبارزه</th></tr>
<tr><td>۲۰۵۱ درملتونونه</td><td rowspan="6">۶۹۳ بابه درملتونونو د غیرقانوني فعالیت، په غیرقانوني ډول له یو ځای څخه بل ځای ته انتقال او د فني مسؤل یا فارمسسټ نه درلودو له امله مهرلاک یا تړل شوي دي<br>۲۷۸ بابه درملتونونو ته د شپې لخوا د نوکریوالۍ د نه اجرا کولو، درملتون کې د معاینه خانې موجودیت او د نظافت د نه مراعاتولو له امله د خوړو او درملو ملي اداري له لورې توصیه نامې ورکړل شوي<br>۱۷۴ بابه درملتونونو ته د شپې لخوا د نوکریوالۍ د نه اجرا کولو، په درملتون کې د معاینه خانې موجدیت اود نظافت نه مرعاتولو له امله اخطار نامې ورکړل شوي دي<br>د روان کال له پیل څخه تر اوسه پورې ۴۱۰ قلمه غیر قانوني درمل راټول شوي همدارنگه ۸۰۰ قلمه تاریخ تیري درمل، ۴۳ قلمه شکمن درمل هم راټول شوي دي<br>د اشتهاراتو په برخه کې د ۵۵۲ مرکزونو او ټولنیزو شبکو څخه څارنه شوې، چې د ۵۸ فیسبوک باڼو د اشتهار مخنیوی شوی.</td></tr>
<tr><td>۳۵۴ عمده پلورنځي</td></tr>
<tr><td>۴۴۴ توریدي شرکتونه</td></tr>
<tr><td>۵۰ تولیدي کارخانې</td></tr>
<tr><td>۵۵۲ مرکزونو او ټولنیزو شبکو</td></tr>
<tr><td>۱۹۴ تخصصي روغتونونو</td></tr>
<tr><td colspan="2">• د پورتنیو ارقامو څخه علاوه په کابل کې د ۱۹۴ روغتونونو څخه څارنه شوې، چې د درملو نابلل شویو پیښو نږدې ۱۳۱ مشکوکې قضیې ثبت شوي او په اړه یې د قانون په رڼا کې اجراءات شوي.</td></tr>
</table>

# د خوړو، درملو او روغتیايي محصولاتو د کیفیت کنټرول :

43949
نمونه ادویه

1446
نمونه مواد غذایی

409
نمونه آب

په درمليز سيستم کې يوه له مهمو دندو څخه د درملو د کيفيت کنټرول دی، چې د لابراتوار فني کسانو ته اړتيا لري. د خوړو او درملو ملي اداري د کيفي ازمېښتونو په ترسره کولو سره د خوراکي توکو او درملو د محصولاتو د کيفيت څخه ډاډ ترلاسه کوي.

د کيفيت د ازمېښتونو څخه موخه، د توليدونکي شرکت لخوا ترسره شوي ازموينې پايلو تاييد ، همدا رنګه د خوړو او درملو ملي اداره له درمليزو محصولاتو څخه د شکايت او يا د درملو نابلل شويو پيښو د راپور پرمهال د هغو درملو لابراتواري ازمايل ترسره کوي.

همدارګه د خوړو او درملو ملي اداري په بازار کې د شتو درملو د کيفيت د تاييد او څارنې په موخه د غير صحي او جعلي محصولات د تشخيص لپاره د مارکيټ د سرويلانس لپاره لابراتواري ازمېښتونو ته اړتيا لري، چې اداره په پام کې لري چې هر کال سرويلانس ترسره کړي.

د اداري تمرکز په کابل کې د خوراکي توکو او درملو د کيفيت د کنټرول لابراتوارونو ظرفيت لوړولو او په حوزو کې د لابراتوارونو پر فعالولو بانديي دی. ځکه چې د خوړو او درملو د کيفيت د معلوملو په موخه اوسمهال په کابل کې يو مرکزي لابراتوار شتون لري چې د کيفيت د معلوملو په موخه د ټول هيواد په کچه د خوړو او درملو نموني ورته ليږدول کيږي ځنګه چې د نړيوالو شريکانو په همکارۍ د ۲ ميليونه امريکايي ډالرو په ارښت لابراتواري وسايل اخيستل شوي، د کيفيت د کنټرول د اسانتيا په موخه اړتيا ته چې د هيواد په زونونو کې د کيفيت د معلوملو لابراتوارونه فعال شي او معياري خدمتونه سوداګرو ته وړاندي کړي.

په تير يو کال کې اداري د لابراتوارونو د فعالولو په موخه کوټلي عملي ګامونه پورته کړي دي، چې د هرات ولايت د لابراتوار لپاره د وسايلو اخيستل عملاً شروع شوي او اداره په پام کې لري چې په راتلونکي کې د خوړو او درملو څلور حوزوي او د خوړو ۸ لابراتوارونه سمبال کړي،

د خوړو او درملو د کيفيت د کنټرول لابراتو په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د خوړو او درملو ۴۵۸۰۴ نموني ازمايلي دي چي له دغې جملې څخه ۱۵۳ درملو او خوړو نموني منفي ثابتي شوي دي او بازار ته يي د وړاندي کولو اجازه نه ده پيدا کړي .

په تير ۱۴۰۱ هـ ل کال کې تجزيه شوي نموني

| شماره | لابراتوار | تجزيه شوي نموني | منفي نموني | رد شوي نموني | فيس په افغانيو |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د درملو لابراتوار | ۴۳۹۴۹ | ۱۴۳ | ۷۵۷ | ۳۱،۴۹۰،۹۴۹ |
| ۲ | د خوړولابراتوار | ۱۸۵۵ | ۱۰ | - | ۲،٦٦۳،٦۳۰ |
| ۳ | د اوبو لابراتوار | | | | |
| | مجموعه | ۴۵۸۰۴قلمه | ۱۵۳ قلمه | ۷۵۷ قلمه | ۳۴،۱۵۴،۵۷۹ |




### دریمه برخه؛

# د اداري د اړونده رياستونو پيژندنه:

## په دې ګڼه کې:

- د کيفيت د کنترول لابراتوارونو رياست پيژندنه




# د کیفیت د کنټرول لابراتوار

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري د لابراتوارونو رياست د خوړو او درملو د کيفيت د کنټرول په موخه په کال ۱۳۴۳ هـ ش کې د عامي روغتيا وزارت تر چتر لاندې په کار پيل کړی دی .ياد لابراتوار چې شاوخوا ۶۰ کاله مخينه لري. د خوړو او درملو د کيفيت په برخه کې څه ډول چې لازم وو ګټور نه دی ثابت شوی لامل يې له يوې خوا د مافيا کړی، له بلې قاچاق او کم ظرفيتې ددې باعث شوی، چې نه يوازې خلکو ته خوندي او باکيفيته درمل او خواړه وړاندې شي.

بلکې دغه برخه تر ډيره د پښو لاندې شوې ده. خو الحمدالله د اسلامي امارت په راتګ او د خوړو او درملو ملي اداري د رهبری په هڅو په۱۴۰۰ هـ ش کال کې د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري په خپلواکيدو سره ياد لابراتوار د اداري تر چتر لاندي راغی او په دې سره د خوړو، درملو او ښنلو د اوبو د کيفيت د کنټرول په برخه کې کوټلي ګامونه پورته شول، چې يو له هغو څخه يې د ظرفيت لوړل و ، د تير نظام پر مهال ياد لابراتوار کې د ورځې په اوسط ډول د خوړو، درملو او د ښنلو د اوبو ۱۰۰ نمونې ازمايل کيدې په داسې حال کې چې اوس مهال الحمدالله د ورځې په اوسط ډول په يادو برخو کې تر ۵۰۰ پورې نمونې ازمايل کيږي.

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري، د خوړو او درملو د کيفيت د کنټرول لابراتوارونو رياست چې هيواد کې د درملو او خوړو رسمي وارداتو او په داخل د هيواد کې د درملو ، خوړو او ښنلو د اوبو د توليد د کيفيت د ارزولو په موخه د نمونو ازمېښتونو دنده پر غاړه لري د ۱۴۰۱ هـ ل کال له پيل څخه تر پايه پورې د خلکو د روغتيا په موخه دخوړو، درملو او ښنلو اوبو ۳۴۱۳۱ نمونې ازمايلي او وروسته يې بازار ته د وړاندې کولو اجازه ورکړې ده، چې په لاندې ډول دي .







**الف: خواړه**

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري، دخوړو او درملو د کیفیت او کنټرول د لابراتوارو ریاست  د خوړو د کیفیت د معلوملو او هیوادوالو ته خوندي خوړو د رسولو په موخه په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د خوړو ۱۴۴۶ نموني ازمایلي ( تجزیه ) کړي دي، چې په هغو کې  د ۷ نمونو پایله منفي وه . د خوړو د نمونو د تجزیه کولو له درکه  د دولت خزانې ته شاوخوا ( ۱،۵۸۷،۶۳۰ ) افغانۍ  جمع شوې دي .

**ب: درمل**

درمل چې د انسانانو یو له ضروري اړتیاو څخه شمیرل کیږي د لابراتوارونو ریاست، د افغانستان وګړو ته د باکیفیته او خوندي درملو د رسولو په موخه په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د درملو (۴۳۹۴۹ ) نموني ازمایلي ( تجزیه ) کړي دي، چې له دې جملې څخه د (۱۴۳ ) قلمه درملو نمونې منفي او (۷۵۷ ) نمونې د مختلفو دلایلو له امله د یاد ریاست له لورې مسترد شوې دي.د یادولو وړ ده چې له دې لارې د افغانستان د دولت خزانې ته (۳۱،۴۹۰،۹۴۹ ) افغانۍ جمع شوې دي .

**ج : د ښکلو اوبه**

د ښکلو اوبه هم یوه له حیاتي موضوعاتو څخه ده، خو  له بده مرغه  د تیرو ځګړو پر مهال د کیمیاوي موادو استعمال دغه برخه هم اغیزمنه کړې ده یاد ریاست د افغانستان وګړو ته د روغتیایي او باکیفیته ښکلو  اوبو د رسولو په موخه په  ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د ښکلو اوبو ۴۰۹ نمونې ازمایلي ( تجزیه ) کړي دي، چې له دې جملې څخه د دریو نمونو نتیجه منفي شوې ده.
د یادولو وړ چې د ښکلو اوبو د تجزیه کولو له درکه د افغانستان د دولت خزانې ته ( ۱،۰۷۶،۰۰۰ ) افغانۍ جمع شوې دي .

**د: په علمي ډګر کې ګام**

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري، د خوړو او درملو د کیفیت د کنټرول د لابراتوارونو ریاست په ۱۴۰۱ هـ ش کال کې د خپلو ورځنیو کارونو ترڅنګ د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځۍ ۱۶۰ تنه محصلین، چې یاد ریاست ته د عملي کار په موخه معرفي شوي وو ،  د اداري د تکړه او مجربو فارمسستانو له لوري په خوړو، درملو او د ښکلو  اوبو د نمونو ازمېښتونو په برخو کې  په پراخه سینه وروزل شول او د خدمت په موخه ټولنې ته وراندې شول.

**هـ: ظرفیت لوړونه**

د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري، د خوړو او درملو د کیفیت د کنټرول د لابراتوارونو ریاست، د اداري د رهبرۍ په پراخو هڅو، د تشکیل په زیاتوالي سره او درملو او خوړو د برخې سوداګرو ته د اسانتیا په موخه خپل ظرفیت لوړ کړی دی ،  تېر څخه په لوی توپیر د ورځې  په اوسط ډول له ۴۰۰ تر ۵۰۰ پورې د درملو، خوړو او د ښکلو د اوبو نمونې تجزیه کوي، چې دغه چاره به د تېر نظام په پرمهال د ورځې په  اوسط ډول  ۵۰ نمونې وه. د یاد ریاست مسؤولین ژمنه کوي، ترڅو په دې برخه کې نورې اسانتیاوې هم رامنځته کړي .



خلورمه برخه؛

# تحقیق او معلومات

- د خوړو او درملو پر کیفیت او مصؤونیت باندې د اسلام ټینگار
- دخوړو  خوندیتوب
- د خوړو په خوندیتوب کې مهم ټکي
- سازمان بین المللی ستندرد سازی (ISO)
- دوا و استفاده معقول آن
- دخوړو  اهمیت او خوندیتوب د اسلام له نظره
- ارزیابی مصوونیت شامپوی گیاهی بیخ
- تشخیص منشا جلاتین دواهای منابع حیوانی

# د خوړو او درملو پر کیفیت او خوندیتوب باندې د اسلام ټینګار









صبغت الله وصیل

اسلامي شریعت د پنځو ضروریاتو (عقیدې، عقل، نسل، ځان او مال) په ساتنه ټینګار کړی او هر هغه څه یې حرام ګرځولی، چې د مسلمانانو دغو پنځو ضروریاتو ته زیان رسوي او ګواښي یې.د بیلګې په توګه ارتداد، شراب، زنا، لواطت، قتل، غلا، غصب، چور، سود، قمار او داسې نور په اسلامي شریعت کې لوی جرمونه ګڼل کیږي، چې د مخنیوي لپاره یې بیلا بیل حدود او تعزیرات(سزا) وضع شوي دي.خواړه او درمل په پورتنیو ضروریاتو کې له دریو (عقل، ځان، مال) سره ژوره اړیکه لري، په دې معنا چې د ټولنې یو وګړی د مال له مصرفولو وروسته خواړه او درمل لاسته راوړي او په هغو خوړو او درملو باندې د هغه وجود تغذیه او تداوي کیږي.که خواړه او درمل با کیفیته نه وي وجود ته د ګټې پرځای تاوان رسوي چې له یوه لوري د یو مسلمان ته مالي زیان اوړي او بل لوړ ته په ډول ډول رواني او بدني ناروغیو اخته کیږي. له هجرت وړاندې د مدینې منورې په بازار باندې د یهودو واک چلیده، چې د سود، احتکار، غش، جعل، فریب او د ناپ او تول په څېر ډول ډول نارواوو پکې شتون درلود، رسول الله صلی الله علیه وسلم د یهودو له سلطې خخه د مدینې د بازار د ازادولو هڅې پیل کړې، په لومړي سر کې یې خپله د بازار څارنه کوله، وروسته یې دا چاره عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته وسپارله. د خنځیر، شرابو او عقل ته د زیان رسوونکو توکو پیر او پلور منعه اعلان شو، په ناپ او تول کې د کمي په اړه په قرآنکریم کې وعیدونه راغلل، تطفیف(په ناپ اوتول کې کموالی) د فساد في الارض(په ځمکه کې دفساد) یو ډول وګڼل شو، د شعیب علیه السلام قوم چې د همدغه جرم له امله هلاک شوی دی، کیسه یې په قرآن مجید کې څو ځله د همدې لپاره تکرار شوې ترڅو خلک ترې عبرت واخلي.



رسول الله صلی الله علیه وسلم په تجارت کې هغه مهال د فریب، غدر، غش او جعل ټولو ډولونو څخه منع وکړه، تردې پورې وعید راغلی چې څوک له موږ سره غش کوي هغه زموږ (مسلمانانو) له ډلې څخه نه دی.د غش(دوکه) د مخنیوي لپاره مختلفي لارې چارې په ګوته شوې، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله په سوداګرو وګرځېد او د چا په خوړو کې یې چې عیب ولید تنبیه(ورپام) یې کړل، د احتکار د مخنیوي لپاره اقدامات ترسره شول.په سوداګرۍ کې سپیڅلتیا او صداقت ته هڅونه وشوه او امانت داره رښتوني سوداګر په جنت کې د انبیاوو، صادقینو، شهداوو او نیکو خلکو ملګری وګڼل شو.وروسته په اسلامي نظام کې د دې کار لپاره خپلواکه اداره رامنځته شوه چې حسبه ورته ویل کیده او په بازارونو کې به په سوداګرو، صنعتکارانو، طبیبانو، ډاکټرانو او درمل پلورونکو ګرځیدل او تخلف کوونکو ته به یې د حبس، بندیز او نورې مناسبې سزاګانې ورکول کیدې.له تیرو څو لسیزو راهیسې په ګران وطن کې د غښتلي نظام د نه شتون له امله افغانستان د بې کیفیته خوړو او درملو د قاچاق او پلور په مارکیټ بدل شوی و.دا چې فتحه راغلې، امنیت تامین دی، امکانات شته دي، موږ افغانانو ته ښه فرصت په لاس راغلی چې د خپلو خوړو او درملو د کیفیت او خوندیتوب په برخه کې ګړندي ګامونه واخلو، او د قاچاق، غدر، فریب، چل، ډوپلیکیټ، تزویر او په دې برخه کې له قوانینو څخه د سرغړونې په اړه په ملي کچه پوهاوی رامنځته او خلک ورڅخه منعه کړو.خوشبختانه د افغانستان اسلامي امارت په اوسني تشکیل کې د دې مهم کار لپاره د (خوړو او درملو ملي اداري) په نوم خپلواکه اداره شتون لري چې تراوسه پورې یې خپل کارونه په صداقت او امانتدارۍ سره سرته رسولي دي، د یو مسلمان افغان په توګه زموږ تاسي مسؤولیت جوړیږي چې له دې اداري خپله همکاري ونه سپموو او په دې توګه خپله دیني او ملي وجیبه ادا کړو.









# دخوړو خونديتوب

# FOOD SAFETY

محمد ولی عادل

خواړه ټول هغه خوراکي او د څښاک توکي دي چې ژوندي مخلوقات يې د بدن د ودې او د انرژۍ د سرچينې لپاره مصرفوي.

خواړه د انسانانو د ژوندي پاتې کيدو لپاره يوه ډېر مهمه او اغيز ناکه ماده ده او د خوړو پرته ژوند امکان نه لري.

د خوړو په علم کې دوه کلمې چې ډيرې مهمې او يو بل سره نږدې اړيکه لري عبارت دي د خوړو امنيت يا Food Securityاو د خوړو خونديتوب يا Food Safety.

د خوړو امنيت يا Food Securityتعريف دادی، چې هر وګړی په هر وخت کې په پوره اندازه، خوندي او مغذي خوړو ته فزيکي، اجتماعي او اقتصادي لاسرسی ولري.

د نړۍ د نفوس د زياتوالي له امله خوراکي توکو ته هم اړتيا ډيره شوې او د خوړو د توليد لپاره ډول ډول ميتودونه کارول کېږي، چې ځينې يې د ناپاکه او غيرمصؤن خوړو د توليد لامل کيږي او د انسان پر روغتيا ناوړه اغيزه کوي، د بيلګې په توګه په خوړو کې د فزيکي شيانو شتون، په کرهنيزو او حيواني محصولاتو کې د آفت وژونکو او کيمياوي دوا، انتي بيوتيک او هورمونونو پاتې شونې په خوړو کې ميکروبونه، درانه فلزات او مايکوتوکسين يا زهريات ټول هغه عوامل دي، چې په خوړو کې يې شتون د انسان روغتيا ته تاوان رسوي.

د خوړو خونديتوب ټول هغه فعاليتونه دي چې د توليد، پروسس، ذخيره، ترانسپورت او بازار څخه بيا تر مصرف کوونکي پورې د خوړو پاکوالی تضمينوي او دا چې د انسان روغتيا ته تاوان ونه رسوي، نو ويلی شو چې د خوړو خونديتوب د خوړو د امنيت تضمين کوونکی دی او د خوړو د خونديتوب پرته يوه ټولنه د خوړو امنيت نشي لرلای.

کله چې خواړه غير صحي وي، نه يوازې دا چې د بدن د اړتياوو د پوره کولو لپاره ګټور نه دي، بلکې د ډول ډول ناروغيو لامل کېدای شي. د روغتيا نړيوال سازمان يا WHOد معلوماتو په اساس هر کال په نړۍ کې ۶۰۰ ميليون وګړي يعنې د نړۍ په هر لسو کسانو کې يو يې د غير مصؤن او ناپاکه خوړو له امله ناروغه کېږي او له دې جملې څخه ۴۲۰ زره يې خپل ژوند د لاسه ورکوي چې د همدې تعداد ناروغانو له جملې څخه يې ۴۰٪ د ۵ کالو کم عمر لرونکي ماشومان دي. ډيرې دا پيښې د اسهال، د خوړو مسموميت، معدې، بډوډي، ينه، د عصابو او دماغو اختلالونه، حساسيت يا الرژي، سرطان او د انسان د مړينې سبب کيږي.

د ناپاکه او غير مصؤن خوړو د مصرف له امله رامنځته شوې ناروغۍ ډير يې په ټيټ او متوسط عايد لرونکوو هيوادونو کې پېښيږي، د نړيوالې سوداګرۍ ډيروالی، د خوړو د خونديتوب په اړه د کافي معلوماتو نشتوالی، د ژوند د طرز بدلون، د ښاري ژوند ډيروالی، د خوراکي توکو د توليد او پروسس اوږده او پيچلې سلسله او په نړيواله کچه د خوراکي توکو د ترانسپورت زياتوالی او اوږدوالی د خوړو د ناروغيو د ډيريدو لاملونه دي.





# د خوړو په خوندیتوب کې مهم ټکي:

محمد ولی عادل

## د خوړو ککړتیا : Food contamination

د خوړو ککړتیا د خوړو د خرابیدو یا Food Spoilage لامل کېږي چې په دې حالت کې خواړه خپل کیفیت له لاسه ورکوي، ظاهري شکل، بوی، خوند او رنګ یې خراب شي او د انسان د ناروغتیا لامل کېږي. هغه عوامل چې خواړه ککړوي او خرابوي یې په لاندې ډول دي:

۱. فزیکي عوامل: په خوړو کې د فزیکي توکو شتون لکه ( لرګی، اوسپنه، شیشه، تیږه، هډوکی، وېښته، د کارمندان زینتي توکي) او داسې نور فزیکي توکي چې په خوړو کې د انسان د ټپي کېدو او حتا د مرګ لامل کېږي.

۲. بیولوژیکي عوامل: څلور ډوله بیولوژیکي عوامل د خوړو د ککړتیا یا خرابیدو لامل کېږي چې دلته د یو مثال سره ذکر شوي لکه بکتریا (Salmonella spp.)، فنګس یا پوپنک (Aspergillus)، ویروس (Norovirus) او پارازیت (Giardia duodenalis) نومړي بیولوژیکي عوامل په ډېره کچه خواړه خرابوي او په انسانانو کې ډول ډول ناروغی منځ ته راوړي.

۳. کیمیاوي عوامل: د خوړو د ککړتیا کیمیاوي عوامل لکه په خوړو کې د غیر مجاز علاوه شوي مواد؛ مثلا د غیر مجاز مصنوعي رنګونو او داسې نورو استعمالول، په خوړو کې د درنو فلزاتو شتون، زهریات یا Toxinاو د حشره وژونکو او کیمیاوي دواوو پاتې شوني. په افغانستان کې مایکوتوکسین ډوله زهریات په اکثره



## د خوړو حفظ الصحه :Food Hygiene



خوراکي توکو کې موندل کېږي چې عموماً د خوړو د ساتلو په وخت کې د ډېر رطوبت له آمله منځ ته راځي او د افغانستان د وچې میوې نړیوال مارکېټ تر تاثیر لاندې راوړي.

د خوړو حفظ الصحه د خوړو په ټولو جریانونو لکه تولید، پروسس، بسته بندی او عرضې په وخت کې عملي کېږي، چې موخه یې د خوړو د تولید او پروسس د ښه عملیاتو له لارې د خوړو د خطرونو او ککړتیا کمول دي، تر څو انسانان د خوړو د ناروغیو څخه خوندي پاتې شي.

د خوړو حفظ الصحه ددې لامل کېږي چې یو شرکت په خپله فابریکه کې د خوړو خطرونه کنټرول او د منلو وړ کچې ته یې راولي.

د خوړو د حفظ الصحي پنځه عمده اصول چې د روغتیا نړیوال سازمان تعین کړي عبارت دی له:

(۱) د وداني، وسایلو او کارکوونکي نظافت پاکوالی
(۲) خام او پاخه خواړه باید جلا شي
(۳) خواړه باید په مکمل ډول پاخه شي
(۴) خواړه باید په مناسبه درجه کې وساتل شي
(۵) د پروسس په جریان کې د پاکو اوبو او خام موادو څخه ګټه واخستل شي.




## خوړو ته ورزیات شوي مواد :Food Additives

خوړو ته علاوه شوي مواد هغه مواد دي، چې د اولیه موادو جز نه وي او د کېفیت، رنګ، خوند، طعم، ذخیروي عمر او نورو اهدافو لپاره خوړو ته علاوه کیږي. دا مواد کېدای شي، چې طبیعي او مصنوعي اوسي. د خوړو طبیعي علاوه شوي مواد د کرهنیزو، حیواني او منرالي محصولاتو څخه لاسته راځي، مګر د خوړو مصنوعي علاوه شوي مواد د انسانانو په واسطه په کیمیاوي ډول تولیدیږي.

د روغتیا د نړیوال سازمان او د خوړو او کرهنې نړیوال سازمانونو (WHO/FAO) په ګډه سره د خوړو د علاوه کېدونکو مواد یو تخنیکي کمیټه جوړه کړې، چې ددې ډول موادو استعمال او حدود تعین کړي.

خوړو ته علاوه کېدونکي مواد د مشخصو اهدافو لپاره استعمالیږي؛ لکه رنګ ورکوونکي، خوند ورکوونکي، خوږونکي، تیزابي کوونکي، غلیظ کوونکي، انتي اکسیدان، ثابت کوونکي، ساتونکي، مخلوط کوونکي، بوی ورکوونکي، د چسپیدوني د مخنیوي او نور.

په امریکا کې د خوړو مجاز علاوه کېدونکي مواد د امریکا د خوړو او درملو د اداري FDAلخوا تعین شوي او د GRASپه نامه یادیږي او په اروپا کې خوړو ته علاوه کېدونکي مواد د E Numberپه واسطه نښاني شوي، چې د اکثره هیوادونو په شمول د افغانستان د خوړو په لیبل کې علاوه شوي مواد د E Numberپه واسطه ښودل کیږي. د مثال په توګه د خوړو د لیبل د ترکیباتو په ډله کې د E330دا معنا ده چې د نوموړي خوړو په ترکیباتو کې سرکه یا Citric acidشته.

تر اوسه تر ۱۵۰۰ نوعه ډیر عام د خوړو علاوه شوي مواد شتون لري، مګر د هر نوعه خوړو لپاره خاص علاوه شوي مواد د خاص حدودو سره مجاز دي.

## د خوړو لیبل :Food Label

د خوړو لیبل یوه معلوماتو مجموعه ده چې د خوراکي توکو بسته بندی باندې نښلول کیږي. د خوراکي توکو لیبل یو ډیر مهم او اساسي شی دی، چې مصرف کوونکي ته د خوراکي توکو د ډول، برانډ، تولید کوونکي شرکت، تولید او پای نیټه، اجزا او نور معلومات رسوي.

د نړیوال ستندرد په اساس دوه نوعه خوراکي توکې د لیبل په اساس شتون لري:

۱. هغه خوراکي توکي چې تولید شوي یا وارد شوي او په مستقیم مصرف کوونکي ته وړاندې کیږي. ددې ډول خوراکي توکو پر لیبل باید پوره معلومات لکه د محصول نوم، اجزا یې، وزن، تولید کوونکي شرکت، تولید کوونکي هیواد، لات نمبر، د تولید او پای نیټه او د استعمال طریقه ذکر شوي وي.

۲. هغه خواړه چې مستقیم ډول مصرف کوونکي ته نه وړاندې کیږي، بلکې یو شرکت یې بل شرکت ته تولیدوي یا واردوي، ددی ډول خوړو پر بسته بندی، چې عموماً غټ او یا د بوجۍ په شکل وي د محصول نوم، د محصول ډول، او وزن پکې ذکر شوي وي او ورسره ضمیمه اسناد لکه اجزا یې، د تولید او پای نیټه، د تولید کوونکي شرکت نوم، تولید کوونکي هیواد نوم او د حلال سرټفیکیټ شتون ولري.






## د خوړو کېفیت :Food Quality

د خوړو کېفیت د خوړو ټولي هغه ځانګرتیاوې دي چې مصرف کوونکي د هغې پر اساس خواړه انتخابوي لکه د خوړو خوند، رنګ، بوی، ظاهري شکل او غذایي ارزښت. د خوړو مصرف کوونکي د خوړو کېفیت د خپل پنځه ګوني حس په واسطه تشخیصوي. د خوړو په صنعت کې د خوړو کیفیت په لابراتوارونو کې تشخیص کېږي چې په اوسني عصر کې په دې برخه کې ډیر پرمختګونه راغلي دي.

# سازمان های شناخته شده و تصدیقنامه های مصونیت غذایی

محمد ولی عادل

## کمیسیون کودکس Codex Alimentarius

سازمان جهانی صحت (WHO)با همکاری سازمان غذا و زراعت ملل متحد (FAO) در سال ۱۹۶۳ کمیسیون کودکس یا Codex Alimentariusایجاد کرد که یک کمیسیون غیر دولتی میباشد و وظیفه آن ایجاد ستندردها، رهنمود ها و کد های بین المللی بخاطر مصونیت، کیفیت و تسهیل تجارت مواد غذایی میباشد. فعلا ۱۸۹ کشور عضویت کمیسیون کودکس را دارد و این کمیسیون تا اکنون حدود ۲۵۰ ستندرد های غذایی، رهنمودها و کدهای عملی را منتشر کرده که شامل ستندردهای محصولات غذایی و ترکیبات آن، بقایایی آفت کش ها، روش های ازمایش، روش های لیبل و بسته بندی، بازرسی تاسسات غذایی و روش های خوب حفظ الصحه در جریان تولید، پروسس، بسته بندی، ذخیره و انتقال مواد غذایی میباشد. این دو سازمان همچنین شبکه بین المللی ادارات مصونیت غذایی ( INFOSAN)را بخاطر شریک ساختن معلومات و رسیدگی به واقعیات عاجل مصونیت غذایی ایجاد کرده. کمیسیون کودکس سه وظیفه اصلی دارد که عبارت اند از:

۱. تسهیل تجارت بین المللی مواد غذایی
۲. حفاظت سلامت و صحت مصرف کننده گان
۳. تهیه و ترویج استندردهای مواد غذایی

## روش های خوب حفظ الصحه و روش های خوب تولید( GMP/ GHP)

GMPروش های خوب حفظ الصحه یا Good Hygiene Practices وGHPروش های خوب تولید یا Good Manufacturing Practicesدو روش است که توسط کمیسیون کودکس و FDAبرای تطبیق اصول مصونیت غذایی در تاسیسات مواد غذایی معرفی شده. این دو روش تظمین می کند که مواد غذایی مطابق با ستندرد و اصول مصونیت غذایی تولید شده و اجرای آن میتواند به جلوگیری از آلودگی مواد غذایی، جلوگیری از فراخوان یا recallو جلوگیری از ضرر، جزا و جریمه شرکت های مواد غذایی کمک کند. اصول اساسی این دو روش عبارت است از مدیریت کیفیت، حفظ الصحه فردی کارمندان، مواد خام، ساختمان و تاسیسات، تجهیزات و وسایل، مدیریت زباله ها، کنترول حشرات، امکانات برای کارمندان، مدیریت شکایات، مدیریت گدام و مدیریت سیستم اسناد و مدارک تاسیسات مواد غذایی.

## تجزیه و تحلیل خطر و کنترول نقاط بحرانی(HACCP)

HACCP یا Hazard Analyses Critical Control Pointکه به معنی تجزیه و تحلیل خطر و کنترول نقاط بحرانی میباشد. سیستم HACCPتوسط سازمان جهانی صحت WHOپذیرفته شده و یک سیستم شناخته شده جهانی است. با عملی نمودن این روش می توان تمام عوامل خطرات فزیکی، بیولوژیکی و کیمیاوی را در تمام مراحل تولید و پروسس مواد غذایی شناسایی و حذف کرد. سیستم HACCPهمچنان در گرفتن تصدیقنامه ایزو با شرکت های مواد غذایی کمک میکند و با ایجاد اعتماد بر مصونیت غذایی باعث بهبود تجارت بین المللی میشود. سیستم HACCPدر ۱۲ مرحله در شرکت های مواد غذایی تطبیق میشود و بعد از تاییدی آن شرکت های مواد غذایی میتواند تصدیقنامه HACCPرا بدست بیاورد.

## سازمان غذا و ادویه امریکا (FDA)

سازمان غذا و ادویه (امریکا) که مشهور به FDAمیباشد و مسول حفظ سلامتی جامعه از طریق تنظیم و نظارت بر مصونیت غذایی، ادویه، واکسین، محصولات صحی و لوازم آرایشی میباشد. بر اساس تعهدات FDAبا سازمان جهانی تجارت WTO، این سازمان با سایر سازمان های بین المللی و کشور ها بخاطر یک سان سازی قوانین و ستندرهای مواد غذایی کار میکند که به همین اساس اکثر کشورها کوشش میکند تا قوانین و طرزالعمل های مصونیت غذایی را مطابق به FDAعیار سازد و سیستم مشابه کنترول مصونیت غذایی را عملی سازد.

# سازمان بین المللی ستندرد سازی (ISO)

سازمان بین المللی ستندرد سازی(ISO) بشکل یک مجمع ادارات ستندرد کشورهای عضو میباشد و بخاطر یکسان سازی ستندردها در سطح جهان کار میکند تا ارتباط بین کشورها در تجارت آسان تر شود. این سازمان از کمیته های مختلفی تشکیل گردیده که و ظیفه این کمیته ها ن بررسی و تدوین استانداردهای مرتبط با آن کمیته می باشد. فعلا ۱۶۷ کشور عضو سازمان بین المللی ستندرد سازی بوده و این سازمان مرکز سویس فعالیت دارد و تا اکنون ۲۱۰۰۰ ستندردها را تهیه نموده است.. تصدیقنامه های ISOتنها توسط شرکت های که توسط International Accreditation Forum (IAF)تصدیق شده اجرا میشود.

## ستندردهای مهم ایزو

- ISO9001:این استندرد برای ایجاد یک سیستم مدیریت کیفیت است و بخاطر رضایت مشتری عملی میشود که شامل مدیریت منابع، مسولیت های رهبری، تنظیم محصولات، برنامه ریزی، رسیدگی به خطرات، نظارت به سیستم و غیره میباشد.

- ISO 22000: ستندرد بین المللی ایزو ۲۲۰۰۰ شامل مجموعه ای از دستورالعمل ها و مقرراتی است که شرکت ها با رعایت آنها می توانند سیستم مدیریت مصونیت مواد غذایی را در تاسیسات خود پیاده سازی و اجرا نمایند. ستندرد ISO 22000بر مبنای استانداردهای ISO 9001 وHACCPتهیه شده است.

- ISO 14001:ستندرد ایزو ۱۴۰۰۱ مجموعه ای از دستورالعمل ها و مقرراتی است که شرکت ها با رعایت آنها می توانند به محیط زیست توجه خاص داشته و از آسیب به آن جلوگیری کند.

- ISO 17025:ستندرد ایزو ۱۷۰۲۵ بخاطر مدیریت و تصدیق لابراتوار ها تهیه شده که با عملی نمودن و گرفتن این ستندرد لابراتوار میتواند خدمات خود را با بهترین کیفیت به مشتریان خود ارایه نماید و نتجه آزمایش آن لابراتوار به سطح بین المللی قابل تایید میباشد.

# تصدیقنامه حلال (Halal Certification)

حلال یک کلمه عربی است و هنگام که برای مواد غذایی استفاده شود به معنای مجاز برای مصرف و استفاده مسلمانان میباشد. اخذ تصدیقنامه حلال بودن مواد غذایی ، تائید می کند که ترکیبات بکار برده شده در محصول حلال و از نظر اسلامی مجاز هستند و محصول عاری از هر گونه ترکیبات حرام می باشد. تصدیقنامه حلال تنها توسط شرکت های صادر شده میتواند که صلاحیت صدور تصدیقنامه حلال را در آن کشور داشته باشد.

## تصدیقنامه ارگانیک (Organic Certification)

مواد غذایی ارگانیک یا طبعی به غذایی گفته میشود که بدون استفاده از حشره کش ها و کودهای کیمیاوی تولید شده باشد و در این روش از مرحله کشت تا جمع آوری و بسته بندی محصولات تمام اصول ارگانیک رعایت شده و از هیج نوعه مواد کیمیاوی استفاده نمی شود. پروسه دریافت تصدیقنامه ارگانیک طوری است که ابتدا باید شرکت مواد غذایی درخواستی خود را به شرکت که صلاحیت صدور تقدیقنامه ارگانیک دارد ارایه کند. بعدا در مرحله بازرسی پروسه تولید طبق استانداردها مورد ارزیابی قرار می گیرد. پس از تایید این مرحله هزینه های لازم پرداخت می شود تا لیبل ارگانیک برای محصول مورد نظر صادر شود. با دریافت و چسپ نشان ارگانیک روی محصولات، در واقع نشان می دهید که محصولات غذایی با روش های طبیعی تولید شده. برای دریافت تصدیقنامه ارگانیک باید ستندردهای لازم رعایت شود که شامل حفاظت از محیط زیست، حفظ الصحه کارمندان، مدیریت اسناد و جلوگیری از استفاده هر نوعه مواد کیمیاوی در مزرعه و یا جریان بسته بندی و پروسس میباشد.

# دوا



## دوا و استفاده معقول آن

صبغت الله شبر



دین اسلام برعلاوهء اینکه پیروان خود را به تداوی امراض امر میفرماید، به طبیب و کارکنان صحی که به نحوی در نجات زندگی افراد نقش دارد نیز مقام بسا بلند و ارزشمندی داده است، چنانچه خداوند(ج) در قرآن کریم میفرماید:

فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاس جَمِيعاً وَ مَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاس ... (سوره المائده آیه 32)

ترجمه: هر کس انسانی را بدون ارتکاب قتل یا فساد در روی زمین بکشد چنان است که گوئی همه انسانها را کشته و هر کس انسانی را از مرگ رهائی بخشد چنان است که گوئی همه مردم را زنده کرده است .

مگر نکته ای که از نگاه عقیده قابل تذکر است این میباشد که داکتر و مریض هر دو به این یقین باشند که شفا دهندهء واقعی خداوند بوده ولی دوا و تداوی از جملهء اسباب مشروع میباشد.

علم طب در اسلام جایگاه ویژه ای دارد و بنابر روایات اسلامی، علم طب به دو نوع است که یکی علم دین و دیگری علم طبابت میباشد.

علم طب، دواشناسی ودواسازی در زندگی انسانها نقش بسزایی دارد که بوسیلهء آن میتوان به شناخت میکروبها ،

ویروس ها، پرازیتها و بدین ترتیب قادر به وقایه از اشیای مضر، از سرایت امراض معالجه نموده که در نتیجه سبب حفظ صحت و ارتقای سلامت خود خواهیم بود و داشتن صحت یکی از نعمات بزرگ الهی به حساب میآید که بدون داشتن صحت زندگی انسانها معنایی ندارد.





## منشأ و منابع دوا:

دواهارا میتوان از طریقه های مختلف تهیه کرد :

I. منابع گیاهی مانند مورفین
II. منابع حیوانی مانند هیپارین، منشا ترکیبات جلاتین
III. منابع انسانی مانند انسولین
IV. منابع معدنی مانند آهن

## مواد تشکیل دهندهء دوا:

یک دوا بطور عموم از دو قسمت ذیل ساخته شده است.

مادهء فعال: عبارت از همان قسمت دوا است که خاصیت وقایوی دوا را دریک اختلال وبی نظمی معین عضویت تصدیق می نماید.

مواد سواغیه: عبارت از ماده یا مخلوط مواد است غیر فعال است که تاثیر بالای مریض نداشته اما در تهیه واستعمال دوا سهولت می آفریند.

## دوا :

دوا یا Drug از کلمه فرانسوی "Drogue" گرفته شده که به معنی گیاهان خشک شده میباشد.هر ماده ای که برای تشخیص، تداوی و پیشگیری از امراض استفاده شود و عملکرد بدن را اصلاح یا تغییر دهد دوا گفته می شود . ویا به عبارت دیگر چگونگی تاثیرات متقابل دوا و عضویت انسان چه به سطح مالیکول و حجره و چه به سطح اعضا وسیستم ها که منجر به تاثیرات تداوی میشود دوا نامیده میشود.

نظربه تعریف سازمان جهانی صحت، دوا عبارت ازمادهء است که غرض تغیر دریک سسیستم فزیولوژیک ویا تغیر دریک حالت پتالوژیک وياهم غرض معاینهء آنها طوریکه به نفع تطبیق شونده باشد،استعمال میشود.





## تاریخچهء دوا ودوا سازی:

تاریخچهء دوا برمیگردد به 5000 سال قبل از میلاد مسیح که مهد این تاریخچه، یونان میباشد که بعد ازآن به کشو های عرب، هند، چین وغیره با توسعهء تجارت گسترش یافت. درابتدا طبابت ودواسازی محدود به اشخاصی چون روسای قبایل ، ساهرین و متصوفین بود



**درکل این تاریخچه را به ادوار چهارگانه تقسیم کرده اند:**

**1.دورهٔ مذهبی یا :RELIGIOUS PERIOD دراین زمان مردم عقیده براین بود که ارواح خبیثه داخل عضویت فرد مریض میشوند؛ بناٌ باخواندن دعا وآوازهای متواتر نزد مریض یا بویاندن رایحهٔ بعضی مواد گویا مریض را معالجه میکردند و به این ترتیب ارواح خبیثه را ازجسم انسان خارج میکردند.مواد اولیه شامل مختصر مواد نباتی، حیوانی ومعدنی بود وچگونگی توضیح ادویه را از قبیل اخته کردن، دم کردن، جوشانده ها، شیره ها وگاهی اشکال بسیار سادهٔ دیگر مانند مرهم ها، دواهای مالشی، کولی ها وغیره تشکیل میداد.**

**2. دورهٔ فلسفی یا :PHILOSOPHIC PERIOD این دوره شامل طبابت چند طبیب مشهور یونان میشود که در تمدن یونانی ها ورومن ها تبارز نمود.**

**تمدن یونانی ها: دراین تمدن فلیسوفانی مثل افلاطون، سقراط وارسطو نقش بسزایی داشتند.**

**تمدن رومنها: جمهوریت رومن درمورد معالجه مریضان شدیداْ سختگیری مینمود وتصمیم خدایان شرط اول بود. بزرگترین دانشمند این تمدن گالین یونانی بود که در قرن دوم میلادی سال 150 میزیست وبه وبه پدر دواسازی ملقب است.**

**3. دورهٔ تجربوی: این دوره مدیون اطبأ ودانشمندان اسلامی چون ابن سینا بلخی که اورا بیش از 450 جلد کتاب است و شمار زیاد آن درموارد طبابت هستند، کتاب القانون فی الطب و الشفای او هنوزهم درممالک مختلف ختلف به زبانهای گوناگون طبع ویا هم به عنوان مأخذ مورد استفاده قرارمیگیرند.**

